نوم : محمدمعصوم هوتک
دپلارنوم : حاجي محمود
دزېږېدوځای : کندهار ـ افغانستان
دزېږېدوکال : ۱۳۲۶ش = ۱۹۴۷ع



په ۱۳۴۶ ش کال دکندهارله میرویس لیسې څخه فارغ سوی دئ اولومړی یې دکابل پوهنتون دحقوقوپه پوهنځي کي درس پیل کړ، بیادکابل پولیتخنیک وساختماني ځانګي ته تبدیل سو، ددغه پوهنځي په دوهم ټولګي کي ناروغ سو. دوه کاله وروسته دکندهارعالي دارالمعلین ته شامل اودساینس له ځانګي څخه فارغ اودکابل پوهنتون دساینس پوهنځي دریم ټولګي ته یې دشاملېدو چانس واخیست . خوکورني مشکلاتوپرې نه ښود چي تحصیل ته ادامه ورکړي . په ۱۳۵۳ش کال دکندهارپه مشرقي لیسه کي دښوونکي په توګه مقررسو . په ۱۳۵۸ش کال دکابل انصاري لیسې ته تبدیل سو اوتر ۱۳۶۰ ش کال پوري یې هورې دتدریس وظیفه سرته رسوله اوپرځنګ یې داطلاعاتواوکلتورریاست دباختراژانس په پښتوڅانګه کي دبالمقطع اجیرپه توګه کارکاوه څه وروسته (۱۳۶۲ش) یې په دغه ځانګه کي درسمي غړي په توګه کار پیل کړ. په باختراژانس کي یې دکارپه جریان کي دارواښادپوهاندعلامه رشادپه لارښوونه دسهارله خوا دکابل پوهنتون دادبیاتوپوهنځی تعقیباوه اودماپښین له خوامي په اژانس کي کارکاوه . په ۱۳۶۶ ش کال دکابل پوهنتون دژبواوادبیاتوپوهنځي له پښتوڅانګي څخه فارغ سو . دپوهنتون دعلمي شورا دفیصلې له مخي په علمي کدر کي شامل اودادبیاتوپوهنځي ته داستادپه توګه معرفي سو خودوخت واکمنو ورته بیوراکراتیک مشکلات پېښ کړل اودتقررمخه یې ونیوله . په ماموریت کي ترځلرمي رتبې ورسېد .

په ۱۳۶۸ ش =۱۹۸۹ع کال له هیواده مهاجراوله ۱۹۹۲ع کال راهیسي په ټورنټو ـ کاناډاکي له خپلي کورنۍ سره اوسي .

پښتوشعریې لومړی وارپه ۱۳۴۴ش کال په طلوع افغان اخبارکي خپورسوی دئ خومنظم یې تعقیب کړئ نه دئ اوکله کله خوداسي هم پېښه سوې ده چي څوکاله یې یوفرد ترخولې نه دئ وتلئ . تراوسه یې دغه لاندي آثارچاپ سوي دي :

۱ ـ سرامني اوښکي (شعري مجموعه) دچاپ کال ۱۳۶۹ش ـ کراچي
۲ ـ پاشلي وېناوي ـ دمولوي صالح محمدهوتک ، ترتیب ، سریزه ،تحشیه اوتعلیقات ـ چاپ ۱۳۶۹ش کراچي
۳ ـ دمیرزاحنان بارکزي دیوان ـ ترتیب ،تصحیح ،سریزه ،مقابله ، تحشیه اولغتنامه ـ چاپ ۱۳۷۰ش کراچي
۴ ـ احمدشاهي کندهار ـ ۱۳۷۵ ش ټورنټو ـ کاناډا
۵ ـ پوخ کاڼی ـ پټه خزانه یوواقعیت دئ ـ ۱۳۷۵ ش ټورنټو ، کاناډا
۶ ـ میرزاعبدالودودهوتک ـ ۱۳۷۷ ش ـ کوېټه
۷ ـ پښتني قبیلې اوروایتي شجرې ـ ۱۳۷۹ش دافغانستان دکلتوري ودې ټولنه ، جرمني
۸ ـ احمدشاهي کندهار(دوهم ټوک) ـ ۱۳۸۵ش ، دعلامه رشادخپرندویه ټولنه ، کندهار

۹ ـ سل بګړي يو پوړنی ـ دهوتکوملي،روحاني، علمي ،ادبي ، اوټولنيزي څېړې ـ ۱۳۸۴ش ، دافغانستان دکلتوري ودې ټولنه ، جرمني
۱۰ ـ رونې شپې ( شعري مجموعه ) ۱۳۸۴ش کويټه
۱۱ ـ دپولادي اميرترسيوري لاندي ـ فرانک مارتين (پښتوترجمه) ، ۱۳۸۳ ش ، دافغانستان دکلتوري ودې ټولنه ، جرمني
۱۲ ـ احمدشاهي کندهار ـ دوهم چاپ ـ ۱۳۸۳ش ، دعلامه رشادخپرندويه ټولنه ، کندهار
۱۳ ـ درنه کورنۍ ( دعلامه حبيب الله کندهاري کورنۍ) دعلامه حبيبي دڅېړنومرکز، کابل ـ ۲۰۰۳ع
۱۴ ـ شين سترګي مستخدمين په افغانستان کي ـ ۱۳۸۵ ش ، کويټه
۱۵ ـ ښکاراوکندهار ـ ۱۳۸۲ ش ، کويټه
۱۶ ـ بحرالعلوم ـ ددوست محمدخټک ( لومړی ټوک) سريزه ، تحشيه ـ ۱۳۸۳ش ـ کويټه
۱۷ ـ دملااميردېوان ـ سريزه ، ترتيب ، تحشيه ـ دکندهارمجلې ضميمه چاپ
۱۸ ـ ميرويس نيکه ـ داروانښادعبدالروف بينوا ، سريزه ، تحشيه اوله سره کتنه ـ دافغانستان دکلتوري ودې ټولنه ، جرمني

ناچاپ

۱ ـ کچکول ( ۴ ټوکه) دمقالومجموعه
۲ ـ پرتليزکليز ( دعيسوي اوهجري کلونوپرتله )
۳ ـ کندهاري سرداران
۴ ـ دبې ادبه ادب څېړنه
۵ ـ انتالوجي ( دافغانستان دپښتنو، تاجکو، ازبکو، ترکمنواوبلوڅوشاعرانوتذکره ـ زرمخه )
۶ ـ دمخلص کندهاري دکلام لغوي زېرمه
۷ ـ دلوی احمدشاه بابادېوان ( ديوان هرا) له څلوروخطي اوڅلوروچاپي نسخوڅخه ـ مقابله ، سريزه ، تحشيه
۸ ـ ساندي ( مرثيې)
۹ ـ دغره و د وره ( ژوندپېښي )
۱۰ ـ تتمه البيان دسيدجمالدين افغان ـ سريزه ، تحشيه ( ترچاپ لاندي )
۱۱ ـ دکندهاريادانښتونه ( دوه ټوکه) ـ دعلامه رشاد ـ ترتيب ، سريزه اوبشپړوني ( ترچاپ لاندي )
۱۲ ـ عمرجان صاحبزاده
۱۳ ـ دشمس الدين کاکړدېوان ـ سريزه ـ تصحيح ، لمنليکونه ، لغتنامه
۱۴ ـ دلويديځي لهجې لغتونه